آیا د لمانځه لپاره اذان اورې؟" ویې ویل: هو، ورته یې وویل: نو (د اذان بلنه ومنه (یعنې جومات ته راځه

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو ړوند سړی راغی او ورته یې وویل: اې د الله رسوله، زه څوک نلرم چې لاس نیولی مې جومات ته راولي، نو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې غوښتنه وکړه چې په کور کې د لمانځه کولو اجازه ورکړي، نو اجازه یې ورکړه، کله چې روان شو غږ یې پسې وکړ، ورته یې وویل: " آیا د لمانځه لپاره اذان اورې؟" ویې ویل: هو، ورته یې وویل: نو د اذان بلنه ومنه (یعنې جومات ته راځه).

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو ړوند سړی راغی ورته یې وویل: اې د الله رسوله، ما سره څوک نشته چې مرسته راسره وکړي او د پنځه وخته لمانځه لپاره مې لاس نیولی جومات ته راولي، غوښتل یې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اجازه ورکړي تر څو جماعت پریږدي (او په کور کې لمونځ وکړي) نو اجازه یې ورکړه، کله چې روان شو ورغږ یې کړ او ورته یې وویل: آیا ته د لمانځه لپاره اذان اورې؟ هغه وویل: هو، نو ورته یې وویل: کله چې بلونکی (موذن) د لمانځه بلنه درکړي، نو بلنه یې ومنه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/11287